# زمونږ تعلیمي زغل

محبوب ګل یاسر

تعـلیم د یو انسان د ترقۍ ړومبۍ پوړۍ ده. ژونـدي قـامونه په تعلیم،علم او تربیت ترقي کـوي. او چې دا نهٔ وي نـو تـرقي بیا ډېره نامـمکنه ده. کهٔ مـونږ وګـورو دنیا چې څنګه آباده شوې ده نـو د هغې وخت نه هم په کومو قامونو کښې چې تعلیم او پوهه وه نو هغه قامونه به مخکښې روان وو. او کـوم قـامـونه چې ناپوهه او بې علمه وو نو هغوي هغې وخت کښې هم وروستو وو. کهٔ مونږه یـوویشتـمې صدۍ تـه وګـورو نـو مونږ تـه بـه معلومه شي چې دې کښې څومره قامونو سائنسي تجربې کړې دي نو هغه هم د علم او پوهې سبب ؤ. عـلـم رڼـا ده. او کـومو قامونو سره چې رڼا وي نو هـغـوي بـه د ژونـد پـه هر مېدان کښې پرمختګ کـوي. خـوشـحـاله ژوند به ئې قدمونه ښکلوي او نړۍ به پرې فخر کوي.

نن چې یورپ څومره ترقي کړې ده نو دا د هـغـوي د جـدید تعلیم وجه ده مونږ نن هم د یورپ نـه پـه تعلیمي زغل کښې دوه سوه کاله وروستو روان یـو. او چې کـله مونږه ځان هغوي سره برابره وو نـو هـغـوي نـور مخکښې شوې وي دا ولې؟ دا ځـکـه چې هـغـوي د خپل تعلیم او علم په وجه په سـائنسي مېدان کښې نوې نوې تجربې کوي. دې وخـت کښې پـه نړۍ کښې اتهٔ شپېتـه مـلکونه د مسـلـمـانانو دي او د دوي ټولو چې سائنسي بجټ راټول کړې نو هغه د یو وړوکي یورپي ملک برابر نهٔ دے. دا ځـکـه چې مونږه ټول عمر د بل په تجربو تېـر کړو خپـلـه مـو هیڅ د تـرقۍ عمل نشتـه. زمـونږه ژونـد هـم پـه هـغې پخوانۍ طریقه روان دے. تـعـلـیـم،روزګـار،صـنـعـت،انجیئـرنګ، میډیـکـل،طـب او په نوم سائنسي ترقي زمونږه د ژوند مرام دے. مونږ نه څومره وخت ضائع کېږي. مـونږ هډو د دې خبـرې پـرواه نهٔ کـوو چې دا وخت څـومره د ترقۍ دے ځکه چې دنیا ته یو ځل راتګ دے بار بار څوک نهٔ راځي. او چې ژوند یو ځل تېر شي نو هغه بیا نهٔ راځي.

کهٔ مـــونږه نـــن خیـــال وکړو نـو زمـونږه تـعـلـیـمي زغل د ګاونډي هېواد بنګله دیش نه هم وروستـو دے. داسې مـونږ نه نور ګاونډي ملکونه انډیا او ایران هم مخکښې دي. دلته چې د پرائمري سـکـولـونـو نـه څـومره ماشومان په نیمۍ کښې تښتـي او خپـل سبـقـونه نیمګړي پرېږدي نو دې عـمل کښې هم زمونږ خوږ وطن سبقت کړے دے. نهٔ د حـکـومت د طرف نه د دې د مخنیوي دپاره څه انتـظـامـات شته او نهٔ چرته پرائیویټ سیکټر دې

طرف ته توجو ورکوي. د بالغانو د تعلیم سلسله په هر حکومت کښې جوړه شي خو هر ځل دا کار نیمګړے پاتې کېږي. چې یو حکومت ختم شي او بل پرې راشي نو هغه منصوبه ختمه شي او د بدمرغۍ نه دې ته نۀ ګوري چې د قام څومره لویه سرمایه په دې خرچ کېږي. ژوندي حکومتونه خپل مړ اولس هم را ژوندے کوي مرګ ته ئې نۀ پرېږدي. د ژوند نعمت ورکوي. د ژوند د ښائسته کولو لپاره د ژوند کالے یعنې علم ورکوي.

په ملک کښې درې قسمه تعلیمي نظامونه چلېږي د اردو ذریعه تعلیم،انګریزي ذریعه تعلیم،سکولونه او دیني تعلیم مدرسې. درې واړه نظام تعلیم درې قسمه ذهنونه زېږوي. او دا درې قسمه ذهنونه بیا د یو بل خلاف وي. نو داسې ملک څنګه ترقي کولے شي؟ په امریکه کښې د دولسم جماعت نه پس تعلیم جدا کېږي. زمونږه کۀ سرکاري نصاب دے او کۀ نجي خو دا مسئله مونږ ته راپېښه ضرور ده چې مونږه نصاب سازي زر زر نۀ کوو او اکثر په کلونو یو نصابي کتاب ماشومانو ته په سکولونو کښې ښایو او په یو کال کښې په نړۍ کښې څومره څومره انقلاب او تجربې کېږي. پکار ده چې مونږه خپل نصاب هر کال بدلوو. د وخت او د حالاتو مطابق پکښې بدلون کوو. او داسې په مدرسو کښې خو هم هغه د پخوانۍ زمانې قیصې دي. د سائنس او د کمپیوټر مخالف دي. بې روزګاري زیاتوي خو دلته د خوشحالۍ خبره دا ده چې اوس په ډېرو مدرسو کښې څه بدلون راغلے دے. عصري تعلیم هم ورکوي او داسې کمپیوټر،سائنس او نور څیزونه ور ته هم ښائي. دنیا سره په زغل کښې روان شول.

علم د ترقۍ علامت دے. ترقي قیامت راتلل نۀ دي او نۀ دې سره دنیا ورانېږي. ترقي د ژوند عمل دے. کۀ مونږه نن وګورو نو په لنډو نزدو وختونو کښې مونږه د یو مسلمان څه داسې ایجاد چاته نۀ شو ښودلے چې دا شے ئې ایجاد کړے دے. هم د دغې انګریزانو فیرنګیانو لاسونو ته ناست یو. او هغوي چې څه ایجاد کړي نو مونږ ئې خریدار یو. هغه خپله ترقي زمونږه ضرورت ساز کړي.

مونږ سره په دې وخت کښې په ملک کښې ډېر اعلی اعلی د تعلیم ماهرین موجود دي چې هغوي ته بهر ملکونه منتونه کوي خپلو ملکونو ته ئې غواړي او استفادې ترې کوي. کۀ چرې مونږ د دې خپل وطنوالو نه هم فائده اوچته کړه نو دا به زمونږ د دې خوار اولس غټه خوش قسمتي او په ملک مهرباني وي. کۀ مونږه د نورو لاسونو او استعداد ته نۀ کښېنو نو چې دې خپلو ماهرینو ته خو چې کښېنو کنه!

☆☆☆